AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغـان جـرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

۲۰۲۰/۱۰/۰۴

لیکوال: By Vicken Cheterian
ژباړه: نجیب الله پتمن

# د افغان جهاد تاریخ
# د عینی شاهد روایت

په زړه پوری لیکنه او واقعیتونه پکي منعکس دي او په لوستلو ارزي

## کره کتنه

عرب -افغان او د جهادي پاڅون پیل:

د عرب - افغان عبدالله انس" سترګي په لاره کېسه" یو غوره اثر دی, نه یوازې د دی لپاره چي څه یي لیکلي , مګر د دی لپاره چي څه یي نه دي لیکلي.

عبدالله انس څوان الجزایرې کلیوال عرب دی چي دعقیدې پر بنیاد په افغانستان کي د شوروی یرغل په مقابل کي جنګیدلي وو. هغه اوس په انګلیس کي اوسیږي.

د کتاب نوم To The Mountainsغرونو ته منځ پانګه د جهادي نهضت لپاره ځان قربانول دي چي په پاى کي په ورکه لاره ولاړل.
دانس کېسه کي جهادي افسانه نیمګړې د نهضت ځینو کمزورتیاوو له مشرتوب او سیاسي سواد نشتوالي ته ګوته نیولي دي.

انس ځیني پټ رازونه چي تر اوسه په پرده کي پوښلي پاته دي ندی څرګند کړي.
یو پټ راز چي عرب - افغان نهضت په کوم بنیاد جوړ شوی وو , تر اوسه پټ پاته دی.

## عبدالله انس ځانګړي شاهد دی :

هغه د افغان جهاد سره په پیل کي یو ځای شو.
انس د سفر جزئیات چي افغانستان ته تللي وو داسي څرګند کړل.
د ۱۹۸٤ په پیل کي افغانستان ته سفر وکړ او لس کاله هلته پاته شو.
عبدالله انس دیپسو راتولولو لپاره امریکا ته څو سفرونه وکړل , د عربو د خدمتونو دفتر Arab Service Bureau
د عرب - افغان لوژستیکي سازمان جوړ او د څه وخت لپاره دهغه مشر پاته شوی وو.

دافغان جهاد په دوران کي کي دغه دفتر MAK په امریکا کي ٥۲ قانوني دفترونه لرل, داعجیبه خبره وه چي د سوړ جنګ په زمانه کي سیاسي اتحاد او وېش حیرانونکي لوبه وه.

د عرب - افغان لوژستیکي اداره MAk په تدریجي توګه د جهاد بنسټ او وروسته القاعده فساد وزیږول چي القاعده د بن لادن تر مشرۍ لاندی وده او هر لور ته ریښي وغزولي.

انس پوهیدل چي بن لادن ,خطاب د شمالی قفقاز اوسیدونکي او ابو معیب زرقاوی به جهاد بدنام او رسوا کړي.

د کتاب له متن ښکاري چي د عرب - افغان جهاد معنوی پلار عبدالله عزام او د جهاد اول نسل ښه نوم او اعتبار سوچه او سپیڅلی وښئي.
انس دا مني چي MAK لوژستیکي سازمان له بنسټګرو وم او د هغه بدلیل په القاعده ډارونکي دیب ته سقوط وو مګر د القاعده د جوړښت مسول نه یم . (۱٤٥پاڼه.)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

انس دوه اتلان لري: عبدالله عزام فلسطینی اسلامپال چي د عرب - افغان جهاد پلار ګڼل کېږي. عزام د افغان جهاد فتوا د اسلامي علماوو په صادرولو کي عمده رول ولوبول, په افغانستان کي جهاد په هر مسلمان فرض دی دا په اسلامي فقه کي اجتهاد وو چي د اسلامي دولتونو په شتون کي جهاد فتوا صادره کړله.فتوا د دوزخ ور خلاص او پرانستل.
هر څوک کېداې شي هرچېرته وجنګیږي، دا مذهبی فرض وو چي د سیاسي اسلام. د بنسټپالی پرانستل.

برخلاف د نورو باصلاحیت کسانو عزام د افغانستان او پاکستان په سیمه کي حضور لرل او د افغان مقاومت ډلو ته له عربي هیوادونو مرستي چمتو کوولي.
عبدا لله انس وروسته د عزام له لور سره واده وکړل.
کله چي انس افغانستان خاوری ته داخل شو د هیواد دننه یوازي ۱۵ عرب جنګیالي وو. ( 42 پاڼه)

په افغانستان کي هیڅکله له ۱۰۰ زیات عرب جنګیالي د شوروی پرضد جنګیدل.
په افغان جهاد کي عرب جنګیالیو د اهمیت وړ رول نه لرل، کله چي د فبروري۱۹۸۹ کال کي شوروی وروستي. سرتیری د دوستي له پله د شوروي خاوري ته واوښتل، د ډاکتر نجیب الله د حکومت په دوران کي عرب جنګیالي افغانستان ته د جګړې لپاره راغلل.
د اریانتیا خبره دا وه چي ولی عرب د خپل هیواد د مستبدو حاکمانو پر ضد نه جنګیدل، بالاخره د جهاد افساني د شوروی امپراتوری ونړوله.

عبدالله انس په کتاب کي د افغان مجاهدینو ډلو تر منځ بی اتفاقي په هکله لیکي :
زه ډیر ژر پدی پوه شوم چي په جهاد کي داتلانو کمبود نشته مګر اصلي ستونزه بی اتفاقي دی.
افغان جهاد کي جنګیالي د جنګ کلتور ته اړتیا لري, هغوي انساني او مذهبي لاربښونو ته ضرورت لري, همدارنګه پوځي مرستي سمی چمتو شي.
سیاست او دیپلوماسي د شوروی تر کلاشینکوف غوره دي چي موږ د هغو له جملی له یو هم برخمن نه یو .(55پاڼه)
انس وائي:
زه یو وخت د بشري مرستو او زده کړو مسول وم عرب جنګیالیو سیاسي پوهه نه لرله موږ غوښتل ځان د منځنی اسیا غرونو ته ورسوو او دا زموږ د ناکامی بل علت وو.
د عربو لویه ستونزه داوه چي د لوستلو وړتیا نه درلودله, د ځواکونو په بلانس نه پوهیدل او په پایله کي له مسلحانه مبارزې څخه بنیادګر اسلامي نهضت وزیږیدل.

ځان وژونکي اسلامي نهضت یو ځان وژونکي ځواک وو چي د شوروي ضد جهاد دواړه اتلان عبدالله عزام او مسعود د اسلامي بنیادګرو له خوا ووژل شول.

په پیښور کي زیاتره عرب جنګیالي د حکمتیار پلویان وو چي د عزام د وژلو لپاره یي چاپیریال چمتو کړل.

عبدالله عزام جګړه کول له سیاسی متن بیل وو, عزام په ۱۹۸۲ کال په اوړی کي کله چي اسرائیلي پوځونو د فلسطین ګوریلا مقاومت محاصره کړل , یاسر عرفات او ملګري یي په بیروت کي پاته شول او عزام چي د فلسطین د ګوریلا ځواک غړی وو په افغانستان کي جهاد ته ودانګل چي هیڅ معنی یي نه لرله.

ما ددی لیکني لیکوال په شخصی توګه داسوال له عزام او نږدي ملګرو طرح کړ مګر هیڅکله قناعت ښنونکي ځواب تر لاسه نه کړل.
عزام په افغانستان کي د هغه زبر ځواک پر ضد جنګیدل چي فلسطیني ګوریلا ته وسلي چمتو کولي او بل زبر ځواک امریکا د فلسطینانو قسم خوړلي دښمن اسرائیل ته وسلي او پیسي ورکولي او تر دی بل بی معنی خبره نشته ده.

عجیبه متناقض دریځ عزام غوښتل په مرکزي اسیا کي د فلسطین ګوریلا کلتور ته پیوند ورکړي او د فلسطین برخلیک د عرب سیاست په متن کي کمزورې کړي.

په ۸۰ مه کلنو د عبدالله عزام بلنلیک له عرب ځوانانو چي د افغان جهاد له کاروان سره یو ځای شي او په سلهاوو عرب ځوانانو جهاد ته لبیک وویل چي په افغانستان کي وجنګیدل.
پایله یي ټکه وه چي دوام یي تراوسه موږ لکه تریاکو باندی روږدي تریاکیان یو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ